دوديال

۲۰۲۳/۰۸/۰۵

# يو ناورين چې چاره يې بايد وشي

## (د ځوانانو د ناخوالو دوام)

په دې وروستيو کې د هيواد له بيلابيلو سيمو د نيول کيدو او وژنو خبرونه خپريږي، د کورنيو سرچينو برعلاوه؛ يوناما او نورو سرچينو هم په افغانستان کې د انسانی تلفاتو دشمېر په اړه بيلابيل راپورونه نشر کړل. دا ډول خبرونه د دې لامل کيږي چې ځوانان خپل کلي او کورونه پريږدي او په ډيرو سختو لارو بهر ته د مهاجرت ملاوتړي. د مرموزو قتلونو او کسات اخيستو ناوړه پېښې د پښتنو په سيمو کې ډېرې دي. د دې لامل د سياسی انګيزو ترڅنګ؛ ناوړه عنعنه هم ده.

پښتانه يو عجيبه غوندې نا معقوله مقوله لرې: "دښمن ته دی خدای بی تربوره، تربورته دی خدای بی ورو‌ره او ورور ته دې خدای بی زويه مه کړه !"

په پښتنو کې کسات او بدل يو ميراثی فکر دی. دوی د پولې - پټې، بيسوادي، يو دبل پر مال او جايداد باندی تيری پر سر يوبل زيات قتل کړي دي. د دوی ژوند عمدتاً په کر- کيله چليږي. زمکه يواځينی اقتصادی عامل دی چې ورته ميسر دی. د نفوسو په زياتيدو يې کرنيزې زمکې کمی شوی. د زمکو کمښت دوی دمجبوريت هغه حد ته رسولی چې آن د يو لويشت زمکې پر سر يوبل ووژنی. سيالی او يو بل سره دملکيت او د ناچيزه جايداد پر سر شخړو دوی ته د (تربورګلوی) افراطی مسئله مهمه او حياتی ګرځولې ده. دا يو ډير بد مجبوريت دی. آن دا چې تربورګلوي يې اوس ايمان او عقيدې سره تړلې او سياست ته يې هم دننه کړې ده. "تربور" يعنی دښمن. اوس دا ناوړه ميرات دی حد ته رسيدلی چې ډير لږ فکری اختلاف يا حتا سو تفاهم هم تربورګلويت شميرل کيږي او تربور (بايد!) ډير ژر له منځه يووړل شی. کوم کلی به وی چې تربرونو پکې يو بل د پاڼ او پولو له اړخه يو بل په ټوپکو ندی ويشتی، کوم کلی به وی چې پکې په لسهاوو کونډې او يتيمان ونه لري. اما د پښتنو په قتل عام کې استعمار هم رول درلود او لري يې.

د چنګيز، ګوډتيمور او صفويانو يرغلونو ډېر پښتانه قتل کړل. په اتلسمه پيرۍ کې د انګريزانو ډېر جنګونه له پښتنو سره او وروستي دي نورو کلونو کې هم ډېر قتلونه دپښتنو سيمو کې وشول او لا دوام لري. پروفيسور ز. ستانکزی چې يو امريکايي پوهنتون کې تدريس کوي، د يو غربی څيړونکی د ليکنی يوه برخه داسې رااخيستی ده:

(....از عمليات نظامی که انګليسها به نام پشتونهای سلحشور، شورويها به نام مجاهدين و اشرار، و امريکاييها به نام تروريست و طالبان پشتونها را هدف عمدۀ حملات خود قرار دادند استنباط کرده می توانيم که پشتونها به جرم اکثريت نفوس کشور هدف بيشترين خسارات جانی و مالی قرار ګرفتند. همين سياست در جنګهای امروزئ افغانستان به شکل امپرياليزم نيابتئ ادامه دارد. پاکستان با مهارت اغواګرانه اکثريت پشتونها را در دم تيغ می ګذارد و ايران امروزی مداخله خود را با نيرنګ دفاع منافع اقليتها توجيه می کند...).

له پرديو دښمنانو برعلاوه، پښتنو خپله هم يوبل ډېر وژلي دي. د عقيدې، سياست، زمکې او تربورګلوي عواملو ورځ تر بلې د دوی کلی په هديرو بدل کړل اوژونديې يې له وطنه په تېښته دي.

دين له خالق سره د بنده قلبی راز او اړيکه، زمکه چې د خدای ملکيت يې ګڼو، يوه د بخورنمير معيشت وسيله، بيوزلی چې نصيب يې بولو، سياست چې قدرت طلبی، هوس او مکاری يې بولو، سيالی چې غيرت يې بولو... دا ټول سره يو شول او پښتانه يې تر دې بريده راورسول چې متاسفانه اوس دنيا دغه غيرتی او با همته قوم ته د بی اتفاقه، جاهل، افراطی، د تعليم مخالف او متحجر نوم ورکړي، حال دا چې پښتانه منورين له دی وضعيت تر ټولو زيات ځوريږي.

له بلې خوا د زياترو پښتنو ميشتځای غرنی سيمې دي، له بده مرغه دتيرو حکومتونو د لارو او سړکونو غځولو، د ښوونځيو پرانيستو، رسنيو او تنويری کار ته د نه پاملرنې له امله، اوس هم د پښتنو سيمو کې يو ډول( قبيلوی ژوند)

مسلط دی. د دوی سیمو کې لا له پخوا رسمیات، قانون، مدني ښکارندې او حکومتی موسسات ډېر حاکم او مضبوط نه وو، بلکې دوی تل ټوپک په اوږه ګرځولی دی. طبیعی خبره ده چې رسمی قانون، پوهه، سواد او ښه حکومتولی نه وي، د وګړو حق خوندي نه وي؛ نو دوي د خپل حق د ساتلو لپاره یو بل وژني.
په تېرو شلو کلونو کې د پخواني ناوړه عنعنوی او قبیلیوی کلچر د مسلط والی بر علاوه، سیاسی قدرت غوښتنې او د ګاونډیوداستخباراتی سازمانو مداخلو د دوی سیمو کې امنیتی وضعیت نور هم پیچلی کړی و. کله چې اسلامی جمهوری نظام سقوط شو، د قتلونو نوې سلسله پیل شوه.
د نا حقه مرګونو د دغې سلسلې مسولیت که له یوې خوا د جنګي وسله والو پر غاړه دی، له بلې خوا موجود حاکمیت هم مسئول دی چې باید خپل پخوانی جنګیالی له قتلونو څخه منع کړي. دا مرګونه زیاتره د (کسات اخیستو او بدل) په بڼه دي. پښتنی سیمو کې پخوانی وسله وال جنګیالی هر کور اود هر کور ځوان جلا جلا پیژني. نو هر هغه ځوان چې محصل و، عسکرو، مامور ویا یی کومه موسسه کې کار کاو، د دوی په فکر باید ووژل شی. آن دا چې په ښارونو کې د دې ډول ځوانانو کورونه ورته معلوم دي. د بیلګې په توګه حتا کابل کی له تیرو دوو کلونو راهیسی ارزان قیمت، خوشحال مینه، کمپنی او نورو سیمو کې ځوانان وتښتول شول او بیا یی ځوورځې وروسته جنازی کورته واستول شوې، کونړ، ننګرهار، پکتیا، خوست، لوګر، هلمند اوکندهار کی د دې ډول وژنو عاملین نا پېژانده وسله وال معرفی کیږي او د قتل انګیزه (شخصی دښمنی) اعلانیږي، حال دا چې دا دښمنی د جمهوریت دوره کې رسمی دنده یا تحصیل ده، بل څه نده.
په تیرو شلو کلونو کې د پښتنو سیمو کې کلي بمبار شول، دشپنیو چاپو پرمهال ډېر خلک شهیدان شول، په لویو بمونو بشپړ کلی له منځه یووړل شول، په ژوندیو یې زندانونه ډک شول، مهاجرتونو ته اړ شول، کلی او کورونه ورڅخه پاتې او بی سرنوشته شول. کله چې شل کاله لویه بدمرغی وربادنی تیره شوه، نوي راغلی جنګیالی چې اوس ځان فاتح لښکر بولي اود سیاسی لوبو څخه ډېر خبر ندي، اوس خپلو تربرونو او د تربرونو زامنو پسې ښارونو کې ګرځي او په هره بهانه بی محابا قتلونه کوي. دا ناورین چې له کلونو کلونو را روان دی، پښتنو ته یو سرطان ګرځیدلی دی. د افغانستان هغو سیمو کې چې (تربورګلویت) نشته، تیرو شلو کلونوکې یې معارف ښه وده وکړه او تمدني ارزښتونه یې خپل کړل، هلته همدا اوس ګرځندویان ورځي، کتابونه خپریږی، میلې کوي، عکسونه اخلی، نجونی تعلیم کوي، اقتصادی پروژې عملی کیږي، تجارت پکې روان دی او ویره پکې نشته. نه یواځې د هیواد دننه بلکې د تېښتې اوله هیواد څخه د وتلو په لاره کې هم د پښتنو مرګونه زیات دي، دا ځکه چې دوی د (تخلیې) پروسه کې ډېر ندی شامل. بهرنیانو ته ټول پښتانه (تروریست) معرفی شوي دي. اوس دوی د دوو تیږو ترمنځ اوږه دي.
پښتانه له پیړیو پیړیو راهیسی لکه هغسې چې د چنګیز - انګریز وختونو کې قتل او وځپل شول، تیرو شلو کې هم قتل او وځپل شول. اوس یې کلي له ځوانانو تش، میندی بورې، پیغلې بی سرنوشته او بیسواده، بوډاګان ناروغ او ماشومان بی ښوونځی او بی درمله دي. تربورګلویت لا ژوندی دی. وسله اوس هم سینګار دی. د مکتبی او محصل قتل لا هم جهاد ده. په فیسبوک او میډیا کې د ځوانانو ناهیلی له ورایه ښکاري. هر یوه سره همدا سوال دی چې په دې لویه نړۍ او په دې ټول افغانستان کې ولی موږ دومره بدمرغه یاستو؟
د دې ځواب او د حل لاره دا ده: تربورګلویت پرېږدئ، تعلیم، تنویری کار، عقیدوی پوهاوی(د انسان قتل کبیره ګناه ښودل)، محلی لیدرشیپ ښه کول، د وسلې پر ځای د کار د وسیلو اخیستل، زغم، بیکاري ختمول، له کثیفوسیاسی پیچلو لوبو ځان خبرول، وطن او وطنوالو سره مینه لرل او په نهایت کې په وروړګلوی او اتفاق سره د ژوند کولو د انګیزی تلقین څخه پرته بل علاج نلرو. سیاسی ناولې لوبه ډېره پیچلی روانه ده، هره ورځ له تاسو قربانی اخلي.
متل دی: **سې نه وایم، له غمه یې وایم!**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ